نعمان دوست

۲۰۲۲/۱۲/۳۱

نوی کلام

یاران گلان دي، له خزان يې امانت غواړمه
خواره واره دې وي، خو ژوند يې سلامت غواړمه

د دې چمن گلونه سخت بې وخته و رژېدل
دې دم ختلو ته زه بېرته طراوت غواړمه

مرغانو! بخت لرئ، ډاډه خپلې سندرې وايئ
زه چې له درده هم زگيروی کړم، اجازت غواړمه

خدايه! له ويرې مې خپل حق له چا ونشو غوښتی
خدايه! چې درغلم بيا هلته عدالت غواړمه

چې څو پاک زړي راپسې وي او زه مخکې يمه
زه د حسينو په مالت کې امامت غواړمه

دا آتشي نغمې به ما گورئ ايره ايره کړي
ادامه ورکړمه؟ يارانو مصلحت غواړمه

په مسيحا سترگو را وگوره، وروستی سلگی دي
نوی ژوند راکړه، له تا دغه کرامت غواړمه

د نرگسي سترگو خاوندې، (دوست) بيمار پروت دی
گلونه مه راوړه، خالي ستا عيادت غواړمه

نعمان دوست
مرغومي ۸مه، ۱٤۰۱

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ